# سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري او نه دې یو سړی له بل سړي سره په یوه جامه کې ځان پټوي او نه دې یوه ښځه له بلې ښځې سره په یوه جامه کې ځان پټوي».
[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې منع فرمایلې ده چې یو سړی د بل سړي شرمګاه ته وګوري، یا دا چې یوه ښځه د بلې ښځې شرمګاه ته وګوري. عورت: هر هغه څه ته وایې چې د ښکاره کېدو پر مهال یې د شرم احساس کیږي او د سړي عورت د هغه د نوم او زنګنونو تر منځ دی، او ښځه د پردیو سړیو لپاره ټوله عورت ده او ښځو او نورو محارمو ته هغه ځایونه ښکارولی شي چې د عادت له مخې یې په کور کې ښکاره کوي. او رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې منع فرمایلې ده چې یو سړی له بل سړي سره په یو لباس او یا د یوې بړستنې لاندې بربنډ ننوځي او لدې چې یوه ښځه له بلې ښځې سره په یو څادر کې بربنډه ننوځي، ځکه دا د دې لامل ګرځي چې یو د بل عورت لمس کړي، پداسې حال کې چې له لمس کولو څخه یې منع راغلې ده، لکه څرنګه چې ورته له لیدلو څخه راغلې ده، بلکې لمس کول یې لاپسې په ټینګار سره منع شوي، او ځکه چې لدې څخه لوی فساد رامنځته کیږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8904

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee